# نیکئ پټوئ

## 23-01-2020



هفته وراه د سُنَّتُو دکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتُو دک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

# نیکئ پتوئ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا رَسُوْلَ اللہ      وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا نَبِیَّ اللہ      وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف **(ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده کيدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چې مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ''**فتاوٰی شامی**'' کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك يا اُوده کيدل غواړي نو د اِعتِکاف نِيَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بيا چې څه غواړي کوي دِ (يعني بيا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کيدے شي)

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت عبدُ الرحمان بِن احمد رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: (يو ځل د غُسل په دوران کښے) په

حمام کښے د راولیدلو په وجه ماته په لاسونو کښے سخت تکلیف محسوسیدلو، بیا زما لاسونه هم اوپړسیدل، هم په دے تکلیف کښے خوب راغے، چې اوده شوم نو په خوب کښے مے د رسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدار شَرف حاصل کړلو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راته اوفرمائیل: اے زما بچیه! ستا دُرودو (یعني ستا د دُرود شریف وئیلو مَعمُول) زه (ستا طرف ته) متوجه کړم. چې سحر راپاڅیدم نو د نبی کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت مے د لاسونو پړسوب او درد ختم شوے وو.[1]

یہ مریض مر رہا ہے ترے ہاتھ میں شِفاء ہے اے طبیب! جلد آنا مَدَنی مدینے والے
مجھے آفتوں نے گھیرا، ہے مصیبتوں کا ڈیرا یا نبی مدد کو آنا مدنی مدینے والے

(وسائلِ بخشش مرمَّم، ص۴۲۷-۴۲۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښے ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[2]

**مَدَني ګل:** نیك او جائز کار کښے چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

---

[1] ...سعادۃ الدارین، الباب الرابع فیماورد من لطائف...الخ، ص۱۴۰

[2] ....معجم کبیر سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲

## د بیان اوریدلو نیتونه

❁ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بیان واورئ ❁ پوره تَوَجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ❁ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د بیان موضوع ده "**نیکۍ پټوئ**". په دے کښے به مونږه "**د نیکو پټولو**" مُتَعَلِّق آیاتِ قرآني او اَحادِیثِ مبارکه، "**د نیکو پټولو**" مُتَعَلِّق د بزرګانِ دِین سوچ، "**د نیکو پټولو**" فضائل، "**د نیکو پټولو**" په باره کښے د بُزرګانِ دین **اَقوال او واقعات، د نیکو پټولو** د پاره دروغ وئیل څنګه دي؟ او د نیکو ښکاره کولو جائز صورتونه او نور ډیر اَهم نکات اورو. الله پاك دِ مونږ ته ټول بیان د ښو ښو نیتونو او مکمل توجه سره د اوریدلو توفیق رانصیب کړي. **آمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د صدیق اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پټ عمل

حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به د شپے د مدینے مُنَوَّرے د یوے مَحَلّے د یوے نابِینا بوډئ د کور کارونه کول، د هغے د اوبو لوښي به ئے ډك کړل او د کور نور ټول کارونه به ئے ورله اوکړل. د خپل معمول مطابق چې یو ورځ د بوډئ کور ته راغللو نو حیران شو چې ټول کارونه د هغوئي نه مخکښے چا کړي وو. بهر حال بله

ورځ د هغے نه لږ مخکښے راغلو نو بیا هم هغه صورتِ حال وو چې ټول کارونه د مخکښے نه شوي وو. چې دوه درے ورځے داسے اوشو نو هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډیر په تشویش کښے شولو چې دا څوك دے چې زما نه په نیکو کښے مخکښے کیږي؟ یوه ورځ هغوئي د ورځے ورغلو او یو ځائے کښے پټ شولو، چې شپه شوه نو څه ګوري چې **اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن** حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تشریف راوړلو او د هغه نابینا بوډۍ ټول کارونه ئے اوکړل. حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حیران شولو چې د خلیفۀ وخت کیدو باوجود داسے عاجزي! نو اِرشاد ئے اوفرمائیلو چې: هغه صرف حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیق خو دے چې زما نه په نیکو کښے وړاندے کیږي.

(کنز العمال، کتاب الفضائل، باب فضائل الصحابة، فضل الصدیق...الخ، الجزء:۱۲، ۲۲۱/۶، حدیث:۳۵۶۰۲)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

اے **عاشقانِ رَسُول!** د **اللّٰه** پاك نیکو بندګانو به شُهرت نه خوښولو، او نن صبا په مونږ کښے داسے خلق شته چې هغوئي داسے انداز اختیاروي چې د هغے نه د هغوئي مقصد شُهرت حاصلول وي، حالانکه اللّٰه والؤ به خپل نیك اعمال د پټولو کوشش کولو، څنګه چې

## د شُهرت نه پس زه ژوندے اوسیدل نه غواړم

حضرت عَلَّامه یافِعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نقل کوي چې: یو بُزرګ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ به دا دُعا کوله چې "**یا اللّٰه! په ما باندے خپل ډیر فضل و کرم اوکړے خو ماخلقو کښے مه مشهوروے چې خلق ما اُو نه پیژني.**" یوه شپه هغوئي په لمانځه کښے ژړل نو څه خلقو اولیدلو چې

د هغوئي په سر باندے د پاسه يو نُوراني قِندِيل (يعني فانُوس) روښانه [رازوړند] دے چې د هغے رنړا سترګے بريښوي. صبا هغوئي ته د شپے والا کرامت تذکره اوکړے شوه نو هغوئي بے قراره شولو چې خلقو ته د هغوئي عبادت ولے ښکاره شو؟ بے اختياره ئے د الله پاك په بارګاه کښے لاس پورته کړل او عرض ئے اوکړو: "اے زما رازداره ربه! زما راز خو ښکاره شو، نور زه د دے شُهرت نه پس ژوندے اوسيدل نه غواړم." دا ئے اُووئيل او په سجده کښے لاړلو. چې خلقو اوخوزلو را اوخوزولو نو رُوح ئے وتلے وو. [1]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (1) د نیکو پټولو عجيبه انداز

حضرت ابو الحسن محمد بِن اسلم طُوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د خپلو نيکو پټولو بےحده خيال ساتلو تر دے چې يو ځل ئے اوفرمائيل: "که زما وَس کيدلے نو ما به د اعمالو ليکونکو فرښتو نه هم پټ عبادت کولے." حضرت ابو عبدُ الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه د شلو کالو نه زياته موده د ابوالحسن رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په صحبت کښے اوسيدلے يم خو د جُمُعَةُ المُبَارَك (او نورو فرائضو او واجباتو) نه علاوه ما کله هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دوو رکعاتو نفلو کولو نه دے ليدلے. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د اوبو کوزه واخسته او خپلے خاص کوټے ته به داخل شو او د دننه نه به ئے دروازه بنده کړه. ما ته به پته نه وه چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په کوټه کښے څه کوي، تر دے چې يوه ورځ د هغوئي ماشوم ځوئ ډير زيات ژړل او مور ئے د چپ کولو کوشش کولو. ما ترينه تپوس اوکړو چې: دا ماشوم آخِر دومره ولے

[1] ... روضُ الرياحين ،الحكاية الخمسون بعد الثلاث مئة ،ص ٢٨٨

ژاړي؟ بي بي صاحبے اووئیل: د ده پلار یعني ابوالحسن طُوسي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دے کوټے ته ننوزي او تِلاوت کوي او ژاړي نو د هغوئي آواز چې واوري نو دا هُم په ژړا شي. شیخ **ابو عبدُ الله** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت ابوالحسن طُوسي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه (د ریاکارئ نه د بچ کیدلو د پاره) د نیکو پټولو ډیر کوشش کولو، داسے چې کله به د عبادت کولو نه پس د خپلے خاص کوټے نه وتلو نو مخکښے به ئے مخ وینځلو او سترګے به ئے تورے کړے چې د مخ او سترګو په لیدلو باندے چا ته څه اندازه اونشي چې دوئي ژړلي دي. (1)

## آدابِ تلاوت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې د قرآنِ پاك تلاوت کولو یا اوریدلو کښے ژړل زمونږه د بُزرګانِ دِین طریقه بلکه سُنَّتِ مُصطَفیٰ دي. ځکه چې د قرآنِ مجید د تلاوت کولو یا اوریدلو وخت کښے به بعضے وخت زمونږ د خوږ آقا مکّـی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو مبارکو نه اوښکے روانے شوے.

## حکایت

حضرتِ صالِح مُرّي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې ما په خوب کښے د حُضُور نَبِـيِّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخکښے تلاوت اوکړو نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را نه تپوس اوکړو چې: اے صالِح دا خو تلاوتِ قرآن دے، ژړا څه شوه؟ (احیاءالعلوم،۱/۸۳۶)

---

1 ... حلية الاولياء، محمد بن اسلم، ۹/۲۵۴، رقم: ۱۳۸۰۳

## د نیکو پټولو فضیلت

نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته د نیکو پټولو تر غیب راکړے دے. چنانچه

خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: په تاسو کښے چې څوك د نیکو اعمالو پټو ساتلو استطاعت [یعني وَس] لري نو هغه ته پکار دي چې هغه هُم داسے اوکړي (یعني خپل نیك اعمال پټ ساتي) (جامع صغیر، ص ۵۱۲، حدیث: ۸۴۰۵)(رساله نیکیاں چھپاؤ، ص۱۲)

رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: هغه ذِکر چې محافظ فرښتے ئے هُم نه شي اوریدلے، په هغه ذِکر باندے کوم چې هغوئي اوریدے شي، اویا (70) درجے زیات فضیلت لري. (کنز العمال، کتاب الاذکار، باب الاول فی الذکر وفضیلته، ۱/۲۲۷، جز:۱، حدیث:۱۹۲۵۔ رساله نیکیاں چھپاؤ، ص۱۲)

کاش چې! مونږه خپلے نفلي روژے، نفلي لمونځونه، نفلي حج او عُمره، صدقه و خیرات او دیني خدمات بے وجه خلقو ته نه بیانوو. کاش چې مونږه د تَهَجُّد او اِشراق و څاښت او اَوّابِین وغیره نفلونه د خلقو نه پټ ساتلو کښے کامیاب شو او د نفلي لمونځونو په پټه د کولو عادت جوړ کړو. راځئ چې زه تاسو ته فضیلت بیان کړم، چنانچه

## جَهنَّم نه د آزادئ سبب

امیرِ اَهلِسُنَّت حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د "فیضانِ نماز" په صفحه 79 کښے لیکي چې: سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد

فرمائیلے دے: څوك چې په تنهائي [یعني یواځے ځائے] کښے دوه رکعاته لـمونځ اوکړي چې **الله** پاك او د هغه د فرښتو نه سِوا ئے هیڅ څوك هُم اُو نه وِیني، د هغه د پاره د جَهنَّم نه **بَراءَت** (یعني آزادي) اولیکلے شي. (کَنْزُ الْعُمّال ج ٤ ص ١٢٥ حدیث ١٩٠١٥)

څلور نور فرامینِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ:

﴿١﴾ خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د انسان په داسے ځائے کښے نفل کول چې کوم ځائے ئے خلق نه وِیني، د خلقو په مخکښے د ادا کوونکو پینځه ویشتو لـمونځونو برابر دے (کَنْزُ الْعُمّال ج ٣ ص ١٢)

﴿٢﴾ مکِّی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: په پټه (ورکوونکي) صَدَقه د **ربّ** غضب مړ کوي. (مُعْجَم کَبِیر ج ١٩ ص ٤٢١ حدیث ١٠١٨)

﴿٣﴾ د **الله** پاك محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: پټ عمل د ښکاره عمل نه اویا همره غوره دے. (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُوْرِ الْخِطَاب ج ٣ ص ١٢٩ حدیث ٤٣٤٨)

﴿٤﴾ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: پټ عمل د ښکاره عمل نه غوره دے. (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُوْرِ الْخِطَاب ج ٢ ص ٣٤٧ حدیث ٣٥٧٢)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** یاد ساتئ! د نیکو پټولو مقصد نیکۍ د ضائع کولو نه بچ کول دي، ځکه چې نفس و شیطان د انسان ښکاره دُښمنان دي. نفس و شیطان انسان نیکو کولو ته نه پریږدي او که انسان هِمَّت اوکړي او نیکۍ کولو کښے کامیاب شي نو نفس و شیطان د انسان په زړه کښے د نیکو ښکاره کولو خواهش پیدا کوي، چې انسان خپل لـمونځونه، تلاوت، ذِکر و اَذکار او صَدَقه وخیرات وغیره بیان کړي او

د **حُبِّ جاه** (یعني د خپل عِزَّت خوښولو) په مرض کښے اخته شي په **ریاکارئ** کښے اخته شي، خپل صفت واوري او د تَڪَبُّر جوَړے کندے ته اوغورزیږي.

**اے عاشقانِ رَسُول!** مونږ ته پکار دي چې د آخري کوشش د حده پورے خپلے نیکئ پټے ساتو او بے ضرورته ئے چا ته نه بیانوو ځکه چه د نیکو ښکاره کولو په وجه د انسان نیکئ بربادیدے شي او د نیکو ښکاره کولو په وجه انسان ګنهګاریدے هُم شي.

**الله** پاك دِ زمونږه په حال رحم اوفرمائي، نیکئ پټول مشکل دي خو ناممکنه نه دي. نیکئ په مَشَقَّت سره کیږي خو د نیکو پټولو مشقت د نیکئ کولو نه زیات دے ځنګه چې

د **الله** پاك آخري نبي، سیّدُ الانبیاء **مُحَمَّد** مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: بیشکه عمل کولو نه پس هغه د ریاکارئ نه ساتل د عمل کولو نه زیات مشکل دي او انسان څه عمل کوي نو د هغه د پاره داسے نیك عمل اولیکلے شي کوم چې تنهائي [یعني یواځے ځائے] کښے شوے وي او د هغه د پاره اویا (70) همره ثواب زیات کړے شي، بیا شیطان بنده ساعت په ساعت راپاروي تر دے چې هغه خپل هغه عمل خلقو ته ښکاره کړي نو بیا د ا عمل د هغه د پاره د پټ په ځائے اعلانیه [یعني ښکاره] اولیکلے شي او په ثواب کښے ئے اویا (70) همره اضافه ورانه [یعني ختمه] کړے شي. شیطان بیا په [هغه] انسان پسے شوے وي تر دے چې هغه په دویم ځل د خلقو په مخکښے د هغه عمل ذِکر اوکړي او غواړي چې خلق هُم د هغے تذکِره اوکړي او په هغه عمل باندے د هغه صِفَت اوکړي نو هغه د اعلانیه نه وران [یعني ختم] کړے

شي او په ریاکارئ کښے اولیکلے شي. پس بنده دِ د **الله** پاك نه اُویَریږي، د خپل دِین حفاظت دِ اوکړي او بیشکه ریاکاري شِركِ اَصغر دے. (نیکیاں چھپاؤ، ص22)

حضرتِ عَلّامه عبدُالغني نابلُسي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: چې په رِیاکارئ او اِخلاص کښے هر یو کښے شیطاني چلونه او دهوکه بازئ دي نو ستا د پاره بیدار اوسیدل لازِم دي. پس که تا ته معلومه نه شي چې ته مُخلِص ئے که رِیاکار نو بیا ستا د پاره خپل نیك اعمال پټول بهتر دي ځکه چې په دے کښے ستا د پاره د هیڅ قِسمه نقصان نشته.

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

راځئ چې! د ریاکارئ د آفت نه نجات حاصلولو د پاره او د نیکو پټولو سوچ جوړولو د پاره د حضرت **داؤد** طائي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د سیرت ایمان تازه کوونکي واقعه اورو، چنانچه

## (2) ځلویښت کاله ئے نفلي روژے نیولے خو....

حضرت **داؤد** طائي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مسلسل ځلویښتو کالو پورے روژے نیولے خو د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اِخلاص دا حال وو چې خپل کور والا ئے پرے هم نه دي پوهه شوي. هغه داسے چې کار له به تللو نو د غرمے طعام به ئے ځان سره وړلو او په لاره به ئے چا ته ورکړلو، او د ماښام نه پس به کور ته راتللو او طعام به ئے خوړلو.[1]

د حضرتِ سَیِّدُنا عیسٰی رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام اِرشاد دے: چې کله په تاسو کښے د چا

---

[1] ...تاریخِ بغداد، داود بن نصیر، ۸/۳۴٦

[نفلي] روژه وي نو هغه دِ خپل سر اوکِيږه په تيلو غوړ کړي او په شونډو دِ هُم لاس راښکاږي چې خلق پوهه نه شي چې دا روژه دار دے. او چې کله په ښي لاس [څه صَدَقه] ورکړي نو چې کينړ لاس ئے خبر نه شي او چې کله لـمونځ کوي نو خپلے دروازے ته دِ پرده اچوي.[1]

مِرا ہر عمل بس تِرے واسطے ہو    کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی
رِیا کاریوں سے سیاہ کاریوں سے    بچا یا الٰہی بچا یا الٰہی

(وسائل بخشش مرمم، ص۱۰۵ - آداب طعام)

اے عاشقانِ رَسُول! چې څوك نیکۍ پټولے شي هغه ته پکار دي چې خپلے نیکۍ پټے ساتي ځکه چې پټ عمل غوره دے. پټ عمل د ښکاره عمل نه اويا (70) همره زيات فضيلت لري. په تنهائي [يعني يواځے ځائے] کښے دوه رکعاته نفل کولو والا د پاره د جَهنَّم نه آزادي ليکلے کيږي. پټ عمل د **الله** پاك غضب ختموي، پټ عمل د تَکَبُّر نه بچ کول کوي، پټ عمل د رياکارۍ نه بچ کول کوي، پټ عمل به د عرشِ اِلٰهی نه لاندے د ځائے حاصلولو باعِث وي، پټ عمل د فرښتو د غټے ډلے د دُعا او د فرښتو د حفاظت حاصلولو سبب جوړيږي. څنګه چې

## تنهائي کښے د عبادت فضيلت

تابِعي بزرګ حضرتِ سَيِّدُنا **کَعْبُ الْاَحبار** رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: چا چې يوه شپه هُم د **الله** پاك داسے عبادت اوکړو چې هغه هيڅ څوك پيژندګلو والا اُو نه وِيني نو هغه د ګناهونو

1 احياءُ العلوم، کتاب ذم الجاه والرياء، الشطر الثاني...الخ، بيان ذم الرياء، ۳/۳۶۱

www.dawateislami.net

نه داسے اُووتو څنګه چې د خپلے شپے نه (د ورځے طرف ته) اُوځي.[1]

## د اعمالو پټو ساتلو فضیلت

نور فرمائي: څوك چې دا خوښوي چې د فرښتو يوه غټه ډله د هغه د پاره د مغفرت دُعا اوکړي، د هغه حفاظت اوکړي او د غمونو نه بے نیازه شي نو هغه ته پکار دي چې څومره کیدے شي په کور کښے دِ په پټه لـمونځ کوي. د هغوئي د پاره خوشخبري ده څوك چې خپل کورونه سَجده ګاه جوړوي. نور فرمائي: جُماتونه په زمکه باندے د مُتَّقِیانو خلقو د اوسیدو ځایونه دي او **الله** تعالیٰ د خپلو فرښتو په مخکښے په هغه خلقو فخر فرمائي څوك چې خپل لـمونځ، روژه او خیرات پټ ساتي.[2]

صَدقه و خیرات په پټه طریقه د ورکوونکو صِفَت په قرآنِ مجید کښے شوے دے. چنانچه

دریمه سیپاره سُوْرَۃُالبَقَرَہ آیت نمبر ۲۷۱ کښے د اللّٰہُ رَحمٰن فرمانِ عالیشان دے:

**اِنۡ تُبۡدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا ہِیَ ۚ وَ اِنۡ تُخۡفُوۡہَا وَ تُؤۡتُوۡہَا الۡفُقَرَآءَ فَہُوَ خَیۡرٌ لَّکُمۡ ؕ وَ یُکَفِّرُ عَنۡکُمۡ مِّنۡ سَیِّاٰتِکُمۡ ؕ وَ اللّٰہُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِیۡرٌ ﴿۲۷۱﴾**

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: که تاسو خیرات ښکاره ورکړئ نو هغه څومره ښه خبره ده، او که په پټه ئے ورکړئ فقیرانو ته نو دا ستاسو د پاره د ټولو نه بهتره ده او په دے به ستاسو څه ګناهونه کمیږي، او الله ستاسو د کارونو نه خبر دے.

---

[1] حلیۃ الاولیاء، کعب الاحبار، ۵/۴۲۰، رقم: ۷۵۹۰

[2] حلیۃ الاولیاء، کعب الاحبار، ۵/۴۲۱، رقم: ۷۵۹۵

## د نیکو پټولو د پاره دروغ وئیل څنګه دي؟

اے **عاشقانِ رَسُول!** د رياكارۍ وغيره نه بچ كيدلو د پاره نيكۍ پټے ساتل ضروري دي خو د نيكو پټولو د پاره د دروغو وئيلو قطعاً اجازت نشته. مَثَلًا كه څوك د حج، نفل روژے، نفل لمونځ، د حافِظِ قرآن كيدلو يا د عالِم يا سيِّد كيدلو مُتَعَلِّق تپوس اوكړي نو د دروغو وئيلو بالكل اجازت نشته.

## د نیکو ښکاره کولو جائز صورتونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** خپلے نيكۍ **حَتَّی الْاِمکان** [يعني چې څومره كيدے شي] پټے ساتلو كښے خير دے خو بعضے حالاتو كښے ښو ښو نِيَّتونو سره د نيكو ښكاره كولو اجازت هُم شته دے، مَثَلًا داسے كس چې هغه د خلقو پيشوا [يعني دِيني مشر] وي، خلق ورسره مَحبَّت او عقيدت لري او نيكو اعمالو كښے د هغه پيرَوِي كوي نو د داسے كس د خلقو د ترغيب د پاره خپل نيك عمل ښكاره كول جائز بلكه افضل دي. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې نبي كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: پټ عبادت د ښكاره عبادت نه افضل دے او د چا چې خلق پيرَوِي كوي د هغه عَلانِيه [يعني ښكاره] عبادت د پټ عبادت نه افضل دے.[1]

خپل ځان نه د تُهمَت لرے كولو او خلق د بَدګُمانۍ نه د بچ كولو د پاره هُم د خپل عمل ښكاره كولو اجازت شته دے. څنګه چې تفسير روحُ البيان كښے دي چې كه نيك عمل په فرائضو كښے شامل وي نو د فرائضو په حق كښے دا دي چې د دے اعلان او

[1] شعبُ الايمان ،باب فی السرور بالحسنة والاغتمام بالسيئة ،۵/۳۷۶ ،حديث: ۷۰۱۲

تشهير دِ اوکړے شي. د رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عظيم دے چې: د **الله** پاك فرائض پټول نه دي پکار.[1] [2]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** انسان ته پکار دي چې که په هغه کښے هر يو صِفَت وي يا هغه ته د هر نيك عمل کولو سعادت هم حاصل شي نو هغه دِ د **الله** پاك شکر ادا کړي چې هغه د دے صِفَت او د دے نيك عمل کولو توفيق راکړے دے. بيا د عمل کولو نه پس چې دا ويره هُم لري چې معلومه نه ده زما دا عمل به د **الله** پاك په بارګاه کښے قبول شوے وي که نه؟ نو چې د عمل د قبليدلو عِلم نه لري نو د هغه عمل خلقو ته د بيانولو څه فائده؟ خو! که هغه نيك عمل د **الله** پاك په بارګاه کښے مقبول وي نو د هغے جزا [يعني ثواب] ورکوونکي **ربّ** ته د هغے عِلم دے لِهذا په خپله خُله خپلے نيکۍ ښکاره کولو باندے خپلو ځانونو ته سُتره مه وائے ځکه چې په قرآنِ کريم کښے د دے منع راغلي ده. چنانچه

ووه ويشتمه (27) سيپاره **سُوْرَةُ النَّجم** آيت نمبر 32 کښے اِرشاد شوے دے:

**فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى (۳۲)**

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو پخپله ځان ته سُتره مه وائے، هغه ته ډيره ښه معلومه ده چې خوك پرهيزګار دے.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

[1] النهاية ، باب الغين مع الميم ، ۳/۳۴۸

[2] روح البيان ، پ۳۰، الماعون ، تحت الآية:۶، ۱۰/۵۲۳

## د نیکو ښکاره کولو نقصانونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په دے آیتِ کریمه کښے **اللّٰه** تعالیٰ خپلے نیکۍ فخریه طور بیانولو نه منع فرمائیلي ده، څوك چې خلقو ته خپلے نیکۍ ښکاره کوي (۱) هغوئي په تَکَبُّر کښے اخته کیدے شي (۲)څوك چې خلقو ته خپلے نیکۍ ښکاره کوي هغه د حُبِّ جاه [یعني د خپل عِزَّت خوښولو] په آفت کښے ګیریدے شي (۳)څوك چې خلقو ته خپلے نیکۍ ښکاره کوي هغوئي د خود پسندۍ [یعني د خپل صِفَت خوښولو] په مصیبت کښے ګیریدے شي (٤) نیکۍ ښکاره کولو سره د نیکو پټولو د ثواب نه محرومي کیدے شي. او (٥) څوك چې خپلے نیکۍ ښکاره کوي هغوئي د ریاکارۍ په تباه کارۍ کښے اخته کیدے شي.

## د ریاکارۍ تباه کارۍ

یاد ساتۍ! (۱) ریاکاري ګناهِ کَبِیره، حرام او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے. (۲) ریاکاري د **اللّٰه** پاك او د هغه د رَسُول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضه کیدلو باعِث ده. (۳) ریاکارۍ سره اعمال بربادیږي (٤) ریاکار به د قیامت په ورځ ارمان کوي. (٥) ریاکارۍ والا عمل د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښے قبول نه دے (٦) ریاکار ته به د رُسوائي عذاب ورکولے کیږي. (۷) په ریاکار باندے جَنَّت حرام دے (۸) ریاکار د جَنَّت د خوشبو نه هُم محرومه وي (۹) په رِیاکار لعنت شوے دے. (۱۰) د رِیاکار په آخرت کښے هیڅ حِصَّه نشته. **اللّٰه** پاك دِ مونږه د رِیاکارۍ د آفت نه محفوظ اوساتي.

## ګناهونه هُم پټوئ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نیکو پټولو ترغیب ورکړے شوے دے، او د ګناهونو پټولو حُکم ورکړے شوے دے. نیکۍ خو ځکه پټے ساتل پکار دي چې هغه د تَکَبُّر او ریاکارۍ په وجه ضائع نه شي، او ګناهونه ځکه پټول پکار دي چې هغه د مخکښے نه د **الله** پاك د ناراضۍ سبب وي او هغه ښکاره کول ډیر زیات جُرأت او بے باکي ده، لِـهذا دا بالکل ښکاره کول نه دي پکار. **فتاویٰ شامي** کښے دي: **اِظْهَارُ الْمَعْصِیَةِ مَعْصِیَةٌ** یعني ګناه ښکاره کول هُم ګناه ده.[1]

رَسُولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا اِرشاد اوریدلے شوے دے چه: زما هر اُمَّتي به معاف کړے شي سِوا د هغه خلقو نه څوك چې خپل ګناهونه ښکاره کوي او د ګناهونو ښکاره کولو دا صُورت دے چې یو نارِینه د شپے څه (د ګناه) کار اوکړي، بیا چې کله سحر شي نو **الله** پاك که د هغه پرده ساتلي وي، بیا هغه اُووائي چې اے فلانکیه! ما تیره شپه داسے داسے کړي دي حالانکه هغه په داسے حال کښے شپه تیره کړي وه چې د هغه **رَبِّ کریم** د هغه پرده ساتلي وه او سحر هغه د **الله** پاك ایښودلي شوي پرده لرے کړي.

## دولسو مَدَني کارونو کښے یو مَدَني کار ”علاقائي دوره“

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په هر نیك کار کښے د اخلاص جذبه حاصلولو د پاره او د خپلو عبادتونو پټولو مَدَني ذِهن جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښے

[1] رد المحتار ،کتاب الصلاۃ ،مطلب اذا اسلم المرتد ،۲/۶۵۰

شامل شئ او د ذيلي حلقے دولسو مَدَني کارونو کښے ډيره ډيره حِصَّه واخلئ. دولسو مَدَني کارونو کښے يو هفته وار مَدَني کار **علاقائي دوره** هُم ده، د دے مَدَني کار بيشميره فائدے دي، مَثَلًا د "**علاقائي دورے**" په بَرَکت د لمونځ گُزارو په تعداد کښے اضافه کيږي، جُمات ورسره آباديږي، د "**علاقائي دورے**" په بَرَکت په علاقه کښے مَدَني کار ډير عام کيږي. لِهذا تاسو هُم دے مَدَني ماحول کښے شامل شئ او مَدَني کارونو کښے ډيره ډيره حِصَّه واخلئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اِخلاص جذبه پيدا کولو يو څو طريقے

(1) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره په رښتيني زړه سره د الله پاك په بارګاه کښے ډيره په عاجزۍ دُعا اوکړئ ځکه چې د دُعا په برکت وران شوي کارونه سميږي. (2) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره د اخلاص د فضائلو مطالعه اوکړئ. (3) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره د بُزرګانِ دين د اخلاص واقعات اولولئ. (4) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره هفته وار د سنتو ډکه اجتماع او مدني مذاکرو کښے پابندۍ سره شرکت کوئ. (5) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره عاشقانِ رَسُول سره هره مياشت د درے ورځو مَدَني قَافِله کښے سفر کوئ (6) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره د مَدَني انعاماتو رساله ډکوئ او د هرے اسلامي مياشتے په يکم تاريخ ئے خپل ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ. (7) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط

کړئ او د عاشقانِ رسول صحبت اختيار کړئ. (8) د نيکو پټولو جذبه پيدا کولو د پاره د مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه رساله ''نیکیاں چُھپاؤ'' اولوَلئ.

## مجلس سوشل ميډيا

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامی په ټوله دُنيا کښے دا وخت د 107 نه زياتو شُعبه جاتو په ذريعه د دين اسلام پيغام عام کولو کښے مصروفِ عمل دے، په هغے کښے يوه ''**شُعبه سوشل مِيډيا**'' هُم ده، د مِيډيا په دے دور کښے ټيکنالوجي ډيره په ترقئ ده. خاص طور د انټرنيټ د ايجاد نه پس د سوشل ميډيا (Social Media) په ذريعه د دنيا په هر مقام کښے د رابطو يوه نوے سلسله شروع شوي ده. فيس بُك (Facebook)، انسټاګرام (Instragram)،واټس ايپ، (Whatsapp)، ټوئټر (Twitter) او د دے په شان نورو ويب سائټونو (Websites) په دنيا کښے خپل کروړونه استعمالوونکي جوړ کړي دي. د يوے اندازے مطابق دا وخت په پاکستان کښے زيات و کم پنځوس مِلِيَن (يعني پينځه کروړه) نه زيات د سوشل ميډيا اکاونټونه موجود دي. دے خلقو ته د قران و سُنَّت پيغام رسولو د پاره دعوتِ اسلامي يو مجلِس په نوم د '' **مجلس سوشل ميډيا** '' قائم کړے دے. د عاشقانِ رَسُول مَدَني تَحرِيك دعوتِ اسلامي تحت '' **مجلس سوشل ميډيا** '' په دے وخت کښے چې په کومو ويبسائټونو کار کوي، په هغے کښے يوټيوب (YouTube)، فيس بك، ټوئټر، انسټاګرام، ټيلي ګرام (Telegram) او واټس ايپ شامل دي.

**فيس بك** باندے په 10 پيجيزو باندے کار روان دے، چې په هغے کښے دعوتِ

اسلامي ، مولانا الیاس قادري، مولانا عُبید رضا، حاجي عمران عطاري. حاجي شاهد عطاري، دار الافتاءِ اهلسنت، مدني نیوز، مدني چینل، مدني چینل لائیو، او 30 سیکنډ اور لیس (Thirty seconds or less) شامل دي، او په دے ټولو باندے د میلاویدونکو لائیکونو تعداد یو کروړ دیرش لاکه دے.

**یوټیوب** باندے هم په **10 چینلو** کار روان دے. چې په هغے کښے مدني چینل (Madani Channel)، مولانا الیاس قادري (Maulana Ilyas Qadri)، اسلام فور کِډز (Islam for kids)، مولانا عُبید رضا عطاري (Maulana Ubaid Raza Attari)، مولانا عمران عطاري (Maulana Imran Attari)، مدني چینل اردو لائیو (Madani Channel Urdu Live)، مدني چینل انګلش لائیو (Madani Channel English Live)، او نعت پروډکشن (Naat Production) شامل دي. د دے ټولو پیجونو استعمالوونکو (Subscribers) تعداد ټول تقریباً 1.7 ملین ته رسیدلے دے. که تاسو هم سوشل میډیا استعمالوئ نو دا پیجیز (Pages) او چینلز (Channels) لائیك او سبسکرائب (Subscribe) کړئ، د دے کونټینټ ښه ډیر شیئر کړئ او د قران او سُنَّت پیغام ټولے دنیا ته رسَوَلو کښے دعوتِ اسلامي سره مرسته اوکړئ. **الله** تعالیٰ دِ د دعوتِ اسلامي هرے شعبے ته ترقي ورکړي. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں اے دعوتِ اسلامی تِری دھوم مچی ہو

(وسائلِ بخشش مُرَمَّم، ص۳۱۵)

الله دِ کرم اوکړي په تا داسے په جهان کښے

اے دعوتِ اسلامي ته دِ عام شے په هر ځائے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا — جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِینه مے دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا — جنّت کښې مے خپل جوړ کړه ګاوندې خوږه آقا**

## د اوده کیدو او بیداریدو سنتونه او آداب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه! د اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ رسالے "**101 مدنی پھول**" نه د اوده کیدو او بیداریدو سنتونه او آداب واورو: ☆ د اُوده کیدو نه مخکښې بستره په ښه طریقه څنډئ چې که چرے موذي خزنده [یعني مار لړم] وغیره پکښې وي چې هغه ترینه اُوځي. ☆ د اُوده کیدو نه مخکښې دا دُعا وائے: **اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْیَا.** تَرجَمَه: اے **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! زه ستا د نامے په برکت مړ کیږم او ژوندے کیږم (یعني اُوده کیږم او بیداریږم) (صَحِیْحُ الْبُخارِی ج۴، ص۱۹۶، حدیث ۶۳۲۵) ☆ د مازدِیګر نه پس مه اُوده کیږئ ځکه چې د عقل تلو اندیښنه ده. فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: "څوك چې د مازدیګر نه پس اُوده شي او د هغه عقل لاړ شي

نو هغه دِ صرف خپل ځان ملامته کړي." (اَلْمُسنَد اَبِی یَعْلٰی ج٤ ص٢٧٨ حدیث٤٨٩٧) ☆ غرمه کښے قيلوله (يعني څه ساعت څملاستل) **مُسْتَحَب** دي. (عالمگیری ج٥، ص٣٧٦)

**صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه** حضرت مولانا مُفتي محمد امجد علي اَعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: غالِباً دا به د هغه خلقو د پاره وي څوك چې شب بيداري كوي [يعني د شپے راپاڅي]، د شپے لمُونځونه كوي، ذِكرِ اِلٰهی كوي، يا د كتابونو په مطالَعَه كښے مشغول اوسي چې د شب بيدارۍ ستوماني به ئے په قيلوله لرے شي. (بهارشریعت ج ٣، حِصّه ١٦، ص٤٣٥) ☆ د ورځے په وړومبۍ حِصّه كښے اُوده كيدل او د ماښام او ماسخُتن تر مينځه اُوده كيدل مكروه دي. (عالمگیری ج٥، ص٣٧٦) ☆ په اُوده كيدو كښے **مُسْتَحَب** دا دي چې په طهارت كښے اُوده شي او څه ساعت په ښۍ ډډه ښے لاس د مخ نه لاندے كيږدي او مخ په قبله اُوده شي او بيا د هغے نه پس په ګڅه ډډه. (ایضاً) ☆ د اُوده كيدو په وخت كښے په قبر كښے اُوده كيدل يادول پكار دي چې هلته به يواځے اُوده يم، سِوا د خپلو اعمالو نه به راسره هيڅ څوك نه وي. ☆ د اُوده كيدو په وخت كښے د **الله تعالٰی** په ياد كښے مشغوليدل پكار دي، تَهلِيل و تسبِيح او تَحمِيد دِ لوَلي (يعني د **لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ**، **سُبْحٰنَ اللهِ** او **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** وظيفه دِ كوي) تر دے چې اُوده شي ځكه چې په كوم حالت انسان اُوده كيږي په هُم هغے راپاڅي او په كوم حالت چې مړ شي د قيامت په ورځ به په هُم هغے پاځي. (ایضاً)

☆ چې را بيدار شي نو دا دُعا لوستل پكار دي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَحْیَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَ اِلَیْهِ النُّشُوْرُ (صَحِیْحُ الْبُخارِی ج٤، ص١٩٦، حدیث ٦٣٢٥) تَرجَمَه: ټول ثناء صِفَت الله تعالیٰ لره دي چا چې مونږه د مړه كولو نه پس ژوندي كړلو او هُم د هغه په طرف بيرته ګرځيدل دي. ☆ هُم هغه وخت [يعني چې څنګه را بيدار شي] دا پخه اِراده دِ اوكړي چې پرهيزګاري او تقوٰی به كووم چا ته به تكليف نه وركووم (الفتاویٰ الھندیة ج٥، ص٣٧٦) ☆ چې كله د هلك او جينۍ عمر لس كاله شي نو هغوئي جُدا جُدا اُوده كول پكار دي بلكه د دومره عمر هلك دِ د دومره غټو (يعني د خپلو همزولو) هلكانو يا (د ځان نه غټو يعني) سړو سره هُم نه څملي. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحتَار ج٩، ص٦٢٩)

قِسماقِسم سنّتونه زده كولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِیْنَه دوه كتابونه (١) د٣١٢ صفحو كتاب "بهارِشريعت" حصّه ١٦ او (٢) د ١٢٠ صفحو كتاب "سُنّتیں اور آداب" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ دوه رسالے "101 مدنی پهول" او "163 مدني ګلونه" هديةً واخلئ او اولولئ ئے. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښے عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلكيانے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډكے اجتماع د بيان موضوع به وي "د اِيمان سلامتيا". په دے كښے به مونږه اورو په قرآن

و حديث کښے په ایمان باندے د ثابت قدم اوسیدلو څومره تاکید بیان شوے دے، یو مسلمان له د ایمان د سلامتیا د پاره څومره فکرمنده اوسیدل پکار دي، زمونږه بُزُرګانِ دین به د ایمان د حفاظت څومره فکر کولو، د آخرت د خلاصي د پاره کوم تدبیرونه اختیارول پکار دي، د دے نه علاوه به بعضے داسے اُمور هم بیانیږي چې هغه د ایمان د پاره نقصاني دي. لِـهٰذا د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره راروان زیارت له هُم اجتماع کښې د حاضرئ نِیَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی وروڼره ځان سره د راوستلو نِیَّت هُم اوکړئ. لاس اوچت کړئ او په زوره اُووائے. اِنْ شَآءَالله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنئ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښے د داخلیدو وخت کښے هُم، تر دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو اودريدو نه مخكښے به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځۍ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ**

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[2] راځۍ چې مونږه ئے هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

**اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ**

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسے دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځۍ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

**جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ**

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3... الترغیب والترهیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللّٰه پاک دے چې د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!      صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حديث: ۴۴۱۵